مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۷/۰۱

# زه اوس حیران یمه

## چي و خاندم که و ژاړمه

د بې اسرې قام په تودو وینو یې شخوند ووهٔ
دلته څوک ژوند ووهل چا باوره! ژوند ووهٔ

زه اوس حیران یمه چي و خاندم که و ژاړمه
یو د ډالـر غل د ځپلې په غله ریشخند ووهٔ

چي یې وطن پـه دغـه حـال کړلـو او وتښتېدل
هـغوی کوم قند خـوړلی نـه دی هغوئ ګندووهٔ

دلته د غـلا لېَاره بـل ډول فـورمـول جـوړ و
وطن ګنی و ښه پـه خـونـد یې بند په بند ووهٔ

دلـتـه چـي هر خـیـانت کـېدهٔ متمتدنـه بـه و
بـاوره !چـا پـه شـعـارونـو چا پـه پـنـد ووهـٔ





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ